# دتوقیف شوي ناروغانو د پاره په روغتون کي د برقي ټکان ورکولو علاج (ECT)

(د 1983 د دماغي روغتیا لایحه 58A برخه)

## دغه رساله د څه شي په باره کې ده؟

دغه رساله خاص ډول مقررات تشریح کوي چي د 1983 د دماغي روغتیا د لایحه په اړه د برقي ټکان د علاج (ECT) څخه د استفادي په باره کي څرنګه د دماغي ناروغانو سره معامله وشي . دغه مقرارت د 1983 د دماغي روغتیا د لایحه په 58A برخه کي دي.

## د برق د ټکان علاج څه شي دي؟

ECT داسي یو علاج دي چي د یوه کم شمیر سخت دماغي ناروغانو د پاره استفاده کیږي ، لکه ډیر سخت دیپرشن، لیونتوب ، او جنون. د ECT په دوران کي، د برق او یا برښنا جریان په مختصر ډول د دماغ له لاري تیریږي، چه د (a 'fit') ګرځي. د ECT عمومي بیهوشي په حالت ورکول کیږي او همدارز ناروغانو ته دوایي ورکول کیږي چه دوي خپله عضلات هوسا وساتي چه دوي خپل ځان د چمتو کولو په وخت کي ژوبل نکړي. معمولاً، د ECT یوه کورس د شپږو او یا 12 دورو ورکول کیږي، البته د ماهر او خاص کارګرانو په واسطه.

که چیري د روغتون کارکونکي فکر وکړي چه تاسو دپاره ECT ښه شي دي چه تاسوته درکړشي، دوي باید تاسوته تشریح کړي چه دغه څه شي دي، او ولي دوي فکر کوي چه تاسوته باید هغه ورکړل شي.

## ایا زه د ECT ته رد او یا ممانعت کولاي شم ؟

که چیري تاسو دا توانایي ولري چه په خپله فیصله وکړي ، چه تاسو د ECT موافقه نه لري که چیري تاسي هغه نه غواړي. تاسو ته فقط هغه وخت ECT درکول کیږي چه تاسي هغه سره موافقه وکړي، او یا دا چه عاجل وي.

## څه باید وشي که چیري زه د 18 کالو څخه کم یم؟

که چیري ستاسو عمرد 18 کالو څخه کم وي او ته ECT سره موافقه وکړي، یوه ډاکتر ستا د کتني دپاره راځي چه هغه ډاکتر د دي روغتون سره چه تاسو پکي تر علاج لاندي قرار لري مربوط نه وي.

دغه مستقل ډاکتر د یوهSOAD ( د دوهمه نظریه ښودونکي ډاکتر ) په نامه یادیږي او د یوه مستقل کمسیون په واسطه ښودل کیږي چه نظارت وکولاي شي چه د دماغي روغتیا د مقرراتو څخه څنګه استفاده کیږي.

مستقل ډاکتر تاسو سره او د روغتون هغه کارکونکو سره چه تاسو وپیژني خبري کوي.
تاسو ته فقط هغه وخت ECT درکول کیږي چي که چیري تاسو دواړه ته او مستقل ډاکتر د هغه سره موافقه ولري، او یا دا چه عاجل وي.

## څه پیښیږي که چیري د روغتون کارکونکي فکر وکړي چه زه قادر نه یم چه د خپل ځان په باره کي فیصله وکړم؟

د روغتون کارکونکي کولاي شي چه فکر وکړي چي ستاسو د دماغي ناروغي علت تاسو قادر نه یاست چه د خپل ځان د پاره فیصله وکړي چه ایا ECT ولري که نه؟

دغه دا معني لري چه دوي فکر کوي چه تاسو نه پوهیږي چه ECT څه شي دي ، او د هغه تاثیرات او ګټه به څه وي .

که چیري دوي فکر کوي چه تاسو قادر نه یي چه د خپل ځان د پاره فیصله وکړي، د روغتون کارکونکي د یوه مستقل ډاکتر (a SOAD) څخه غوښتنه کوي چه راشي او تا وګوري. مستقل ډاکتر تاسو سره او د روغتون هغه کارکونکو سره چه تاسو ته ویپژني خبري کوي.

که چیري د مستقل ډاکتر موافقه وکړي چه تاسو قادر نه یي چه د خپل ځان د پاره فیصله وکړي، مستقل ډاکتر کولاي شي موافقه وکړي چه د روغتون کارکونکي اجازه لري چه تاسو ته ECT درکړي. مګر دا چه دغه عاجل وي ، تاسو ته فقط هغه وخت ECT ورکول کیږي که چیري مستقل ډاکتر هغه سره موافقه وکړي.

لاکن د مستقل ډاکترنشي کولاي چه د روغتون د کارکونکو سره موافقه وکړي چه تاسو ته ECT درکړي که چیري تاسو خپله د مخه یوه کلکه قانوني فیصله د ECT د نه نیولو او یا رد کولو د پاره د 2005 د دماغي ظرفیت تر مقرراتو لاندي ولري، او یا ځني نور کسان، هغوي ته چه اجازه ورکول کیږي چه ستاسو په غیاب کي تصمیم ونیسي چه تاسو باید هغه و نه نیسي. دغه کسان کولاي شي هغوي وي چه تاسو د هغوي نوم د مدافع وکیلانو په یوه لست ورکړي وي،یا تاسو د پاره یوه تعین شوي استازي د ځارني د محکمي له خوا ، او یا د ځارني د محکمي په خپله . د روغتون کارکونکو کولاي شي چه تاسوته د 2005 د دماغي ظرفیت د مقرارتو په باره کي نور معلومات درکړي.

## په یوه عاجل حالت کي څه پیښیږي؟

په یوه عاجل حالت کي ، تاسو ته ECT درکول کیږي حتي که چیري تاسو او مستقل ډاکتر د هغي سره موافقه و نلري .

لاکن دا په داسي حال کي اجرا کیږي چي که چیري دوي و پوهیږي چه ECT په مستقیم ډول ستاسو ژوند ته نجات ورکوي، او یا ستاسو دماغي روغتیایي حالت له بد تر کیدو څخه ژغوري.

## د تمرین کوډ

دلته د تمرین یوه کوډ دي چه د روغنون کارکونکو ته چه د خلکو د دماغي ناروغي درمان کول د دماغي روغتیا د لایحه کي مشوره ورکوي . کارکونکي مجبور دي چه کوډ تر کتني لاندي ونیسي چه کوډ څه ویلي دي کله چه دوي ستاسو د مواظبت په هکله تصمیم نیسي. تاسو کولاي شي پوښتنه وکړي چه د کوډ یوه کاپي تاسو ته د کتني د پاره درکړي ، که چیري تاسو وغواړي.

## څنګه زه شکایت کولاي شم ؟

که چیري تاسو وغواړي چه د ځني شیانو د سرته رسولو په باره کي چه په روغتون کي ستاسو د مواظبت او علاج په اړوند دي، شکایت وکړي ، لطفاَ د کارکونکو د یوه غړي سره خبري وکړي. کیداي شي چه دوي قادر وي چه موضوع حل کړي. همدا راز دوي کولاي شي چه تاسو ته د روغتون د شکایاتو د طریقي په باره کي معلومات درکړي، چه تاسو و کولاي شي د هغه نه په استفادي خپل شکایات د هغه له لاري تنظیم کړي چه د داخلي حل په نامه یادیږي. همدا رنګه دوي کولاي شي چه تاسوته د ځني خلکو په باره کي چه هغوي کولاي شي ستاسو شکایت ته رسیدګي وکړي خبري وکړي.

که چيري تاسو احساس کړه چه د روغتون د شکاياتو طريقه نشي کولاي  چه تاسو سره مرسته وکړي ، تاسو کولاي شي چه د يوه مستقل کمسيون له لاري شکايت وکړي. کمسيون نظارت کوي چه د دماغي روغتيا لايحي څخه څرنګه استفاده کيږي ، او اطمنان تر لاسه کوي چه هغي نه په صحح توګه استفاده شوي ده او دغه ناروغانو ته د هغه وخت څخه چه دوي په روغتون کي دي  په صحح توګه توجه شوي ده.  د روغتون کارکونکي کولاي شي چه تاسوته يوه تشريح شوي نشريه درکړي چه څرنګه کمسيون سره ارتباط پيدا کړي.

### زيادتر مرستي او معلومات

که چيري دلته څني شيان ساتسو د مواظبت او علاج په باره کي وي  چه تاسو په هغه کي نه ياست پوه شوي، د کارکونکو  يوه غړي کوشش کوي چه تاسوسره مرسته وکړي.  لطفاً د کارکونکو د يوه غړي پوښتنه کړي چه ستاسو د پاره تشريح  وکړي که چيري څني شيان په دغه نشريه کي ستاسو دپاره واضح نه وي او يا  پوه نشي او يا که چيري تاسو بل پوښتنه لري چه دغه نشريه ورته ځواب نه ورکوي .

لطفاً پوښتنه وکړي که چيري تاسو  علاقمندي لري چه د دغي نشريه يوه بل کاپي د يو بله ځا دپاره ورکړي.